سرلوڅ مرادزی

۲۰۱۰/۰۷//۲۴م

# کابل کنفرانس: ترهګر او اداري فساد

کابل کنفرانس د پریکړو پر وړاندې دوه توري بلاګانې ولاړې دي : یوه توره بلا ترهګر او بله بلا اداري فساد !
تر کومه ځایه چې خپله کنفرانس پورې اړه لري، هغه یو بریالی او کامیاب کنفرانس بللی شو. کنفرانس کې د څلوېښتو هیوادو د باندنیو چارو وزیرانو او د اویا هیوادو او موسسو د استازو ګډون او له افغان ملت څخه ننګه او ملاتړ خپله لویه بریا ګڼل کیږي.
تر ټولو ړومبی د ملګرو ملتو سرمنشي ښاغلي بان کې مون هغه ویناوی چې په کابل کنفرانس کې وشوي ګټوري او هراړخیزي وبللي او ویې ویل «دسه شنبې په ورځ دکابل کنفرانس په پای کې یو پریکړه لیک تصویب شو چې ددغه کنفرانس موخې اونتیجې بیانوي. دغه راز نوموړي دنړیوالې ټولنې په استازیتوب دافغانستان خلکو ته ډاډ ورکړ چې نړیواله ټولنه به د افغانستان د امنیت تامینولو اوپراختیا په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. **هغه څرګنده کړه د کابل کنفرانس نن پاي ته رسیږي خو دکابل بهیر دغه راز دوام لري**. دملګروملتو سرمنشي په دې بیان سره چې دافغانستان خلک له کابل کنفرانس څخه لوړې هیلې لرې وویل، هیله لرم په هغو ژمنو سره چې دافغانستان دخلکو په وړاندې شوي په راتلونکې کې د یو باثباته اومترقي افغانستان شاهدان واوسو».
د امریکا ولسمشر اوباما هم کابل کنفرانس څخه په ټینګار خپل ملاتړ څرګند او میرمن کلنټن په زغرده وویل چې امریکا او نړیواله ټولنه به د افغانستان ترڅنګه ولاړه وي.
د کابل کنفرانس په درشل کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ تړون لاسلیک شو چې خپل ډول کې لوی ارزښت لري. جاپان افغانستان سره د یولس سوه میلیونو ډلرو مرستې ژمنه وکړه چې په راتلونکو درې کلونو کې به افغانستان ته ورکول کیږي او امریکا ۱۵۰ میلیونو ډالره د کرهنې په برخه کې کرنې وزارت ته بېلې کړې. د نورو هېوادو مرستې او ملاتړ هم د یادونې وړ دی.
په کور دننه هم کابل کنفرانس څخه پوره ملاتړ وشو او ډېری پوهانو او د نظرخاوندانو نوموړی کنفرانس ګټور او ارزښتمن وارزوه.
خو د کابل کنفرانس په وړاندې د افغانستان سوګندخوړلي دوښمنان هم چوپ کیناستل. له هغه او دغه ځایه یې سرونه راپورته کړل. چا په سایټونو او رسنیو کې د قلم په ژبه، د ایران سفیر د کنفرانس په غونډه کې په بدماشۍ او ترهګرو د هېواد په یوه او بل ځای کې د ځانمرګو بریدونو په ترسره کولو سره، له کنفرانس سره خپله کرکه څرګنده کړه !
پاکستان خو د تل پشان دوه مخی سیاست ولوباوه. د کنفرانس پریکړې یې په یوه یا بله بڼه تایید کړې. خو د کنفرانس بریالي پایته رسیدل یې ونه شول زغملای، شوک یې واخیست او سملاسي یې د ترهګرو په خوله دا لاندې بیان جاري کړ:
« دکابل تش په نامه اوبې نتیجې کانفرانس دا وښودله چې امریکایانو نور دافغانستان د قضیې په اړه دحل ابتکار له لاسه ورکړی اوهرهغه څه چې د دوی له لوري د دغې لانجې د حل په نامه ترسره کیږي هغه مخکې ترمخکې په ناکامي محکوم دي، اودوی هم چې هرڅه په دغه پلمه ترسره کوي هغه په حقیقت کې دلانجې د اوږدولواو په افغانستان کې د بهرنیانو دلا ښکېلولو لامل ګرځي او دا هغه څه دي چې افغانان یې نه غواړي او مقاومت به لانور هم ورسره زیات شي. د کانفرانس له شیندلې او نامالومې محتوا نه هم داسې مالومیږي چې امریکایان او نړیواله ټولنه غواړي په یو ډول نه په یو ډول نورهسې له افغانستانه پښې سپکې او دلته د راتلونکې تباهې، ناکامي او رسوایي بار د کابل د بیواکه ادارې په غاړه ور واچوي.»
له دې اعلامیې څخه څرګندیږي چې پاکستان هیڅکله هم سرلوړی، پیاوړی او پرمختللی افغانستان پخپل څنګ کې نه شي لیدلای. د کابل کنفرانس پریکړو د شنډولو لپاره به بیا پاکستان له ټولې نړۍ څخه توره بان دیوان، لنډه غر، ترهګر، القاعده او نور ناآشنا موجودات راټولوي او افغانستان ته به یې د جهاد لپاره رالیږي.
خو د کنفرانس پریکړې او د افغانستان ودانې، سوکالي او امنیت د پاکستان له ترهګرو سربېره بل لوی دښمن هم لري. هغه توره بلا په کور دننه اداري فساد دی!
د ملګرو ملتو سرمنشي ښاغلي بانکي مون، د افغانستان ولسمشر کرزی وهڅاوه چې د اداري فساد په وړاندې رابوڅ شي او غوڅه مبارزه وکړي. د نړۍ نورو مشرانو هم د افغانستان له دولته همدغه غوښتنه درلوده. افغانان خو لا مخکې د اداري فساد له امله پر کرزي او د هغه په ناوړه او ناکاره اداره زړه ډکي دي!
د ډېرو په اند، د کابل د کنفرانس او یا هره بله ګټوره پریکړه به پلي نشي چې د ترهګرو او اداري فساد پر وړاندې غوڅه مبارزه ونشي. دا دریواړه یوله بله تړلي دي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کابل کنفرانس او د نړۍ ملاتړ بلاخره پای لري. دا د افغانانو لپاره روستي چانسونه دي. که افغانان نور هم د پیل په غوړ کې ویده وي، دا چانسونه ځي. بیا به لاسونه مړو او وخت به تېر وي!
ځونه به ښه وي چې تر ټولو ړومبی روشنفکران، قلموال، پوهان او د نظرخاوندان د هېوادپالنې په لوړ احساس، د اداری فساد او ترهګرو په وړاندې د یو مست غورځنګ په لاراچولو سره د هراړخیزې مبارزې لپاره راودانګي!

پای

اخځونه :
ــ ټول افغان او تاند بریښناپاڼې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ